د افغانستان اسلامي جمهوریت
د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست



## د کډوالو له راستنیدنې پرته د افغانستان ملت نیمګړی دی

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د جمهور رئیس محمد اشرف غني له ویناوو څخه



## دکډوالو په اړه هر ډول ناغیړي د میلیونو کډوالو برخلیک له خطر سره مخامخ کولای شي

ډاکتر عبدالله عبدالله
د افغانستان اسلامي جمهوریت اجراییه رئیس



### د فساد پر وړاندې مبارزه

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، فساد سره مبارزې او د شفایت رامنځ ته کولو ته ژمن دی په تیرو څو میاشتو کې دغه وزارت په دې اړه اغیزمن ګامونه پورته کړي چې د لومړي ځل لپاره د وزارت په چوکاټ کې " له فساد سره د مبارزې کمیټه " جوړه شوه . یاده کمیټه د قانون د حاکمیت ، د اداري فساد له منځه وړل ، د کارونو د اغیزمنتیا او غوره خدماتو د وړاندې کولو په موخه له فساد سره د مبارزې پالیسي او د دغې پالیسی لپاره تطبیقي پلان جوړ کړ .
له فساد سره د مبارزې په برخه کې د وزارت هڅې ، له فساد سره د مبارزې د عالي اداري او د له فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې کمیټې ( MEC ) د منلو وړ وې .

### د تشکیل پراختیا او بودیجه

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په کور دننه له یو میلیونو څخه د ډیرو بې ځایه شویو ترڅنګ د ۱۲ میلیونه افغانانو د مدیریت چارې ترسره کوي چې شپږ میلیونه یې له هیواد څخه بهر د کډوالی شپې او ورځې سبا کوي او شپږ میلیونه نور بیا هیواد ته راستانه شوي دي .
د دغې لویې کچې ستونزو ته د رسیدنې لپاره پراخو امکاناتو او ډیرې بودیجې ته اړتیاوه چې د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په وړاندیز په تشکیل کې ۲۵۰ کارکوونکي ډیر شوي او یاد وزارت لپاره حکومت پراختیایي بودیجه هم په نظر کې نیولې .

### د معلوماتو د مرکز جوړول

د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د افغان کډوالو ، پناه غوښتونکو ، راستنیدونکو او بې ځایه شویو کورنیو په اړه د کره شمیرو نشتوالی هغه ستونزه وه چې په تیرو وختونو کې وزارت ورسره مخامخ و خو له ډیرو هڅو وروسته دغه وزارت و شو کولای چې د معلوماتو یو مرکز جوړ او له ټولې نړۍ څخه د افغان کډوالو په اړه معلومات راټول او د دغه مرکز په ډیتابیس کې ثبت کړي .

### ګاونډي هیوادونه

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د خپل کار په لومړیو ورځو کې د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې په موخه دوو ګاونډیو هیوادنو پاکستان او ایران ته سفرونه وکړل په کابل ، اسلام اباد او تهران کې له ناستو او خبرو اترو وروسته دواړو هیوادونو سره د هغو افغان کډوالو د راجستریشن په اړه چې تراوسه نه دي راجستر شوي هوکړه وشوه .

### پاکستان

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزیر د خپل کار په لومړیو ورځو کې د یو پلاوي په مشرۍ اسلام اباد ته ولاړ او په دغه هیواد کې د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې په موخه یې له پاکستاني چارواکو سره خبرې وکړې او ورسته بیا د پاکستان د سرحدونو او یالتونو د وزیر عبدالقادر بلوچ په مشرۍ یو پلاوی کابل ته راغی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په دوو جلا جلا ناستو کې په کابل کې له دغه پاکستاني پلاوي او UNHCR سره د دوو مهمو مسلو په اړه هوکړې ته ورسیدل :
۱ - په پاکستان کې له یو میلیونو څخه د ډیرو هغو افغان کډوالو ثبت او راجستریشن چې تر دې مهاله نه دي راجستر شوي .
۲ - د ۲۰۱۷ کال تر پایه د هغو افغان کډوالو د مهاجرت د کارتونو د مودې غځول چې کارتونه یې د ۲۰۱۵ کال په پای کې پای ته رسیږي .

### ایران

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ، هڅه کړې ترڅو په ایران کې د افغان کډوالو ستونزو ته رسیدنه وکړي په تهران او کابل کې د دواړو هیوادونو ترمنځ له خبرو اترو وروسته د لومړي ځل لپاره په دغه هیواد کې ناراجستر افغان ماشومانو ته د زده کړې زمینه برابره شوه د دې ترڅنګ د وزارت له هڅو وروسته د دوو شپږ ماشتینی دورو لپاره د ۴۵۰۰۰۰ افغانان کډوالو د مهاجرت د اسنادو موده و غځول شوه همدارنګه د دواړو هیوادونو چارواکو په ایران کې د افغان کډوالو د استوګنې د قانوني کیدو ، دواړو هیوادونو ته د افغانانو تګ راتګ ، کلتوري پرګرامونو او په خپله خوښه د راستنیدنې په برخو کې هوکړې ته رسیدلي .

### داخلي بې ځایه شوې کورنۍ

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د داخلي بې ځایه شویو د ملي پالیسۍ پر بنسټ د نړیوالو مرستندویه ادارو په مرسته په دریو بیلابیلو پړاوونو کې بې ځایه شویو کورنیو ته خدمات وړاندې کوي :
۱ - تر ټولو مخکې د مرستو د رسولو په موخه د بې ځایه شویو کورنیو سروې ترسره کیږي
۲ - د بې ځایه کیدو په جریان کې د ټولنیزو خدمتونو وړاندې کول
۳ - له بې ځایه کیدو وروستو د دایمي حل لارو موندل
په دریمه مرحله کې وزارت هڅه کوي چې بې ځایه شوې کورنۍ له خپلو اصلي سیمو سره یوځای کړي او هلته ورته د سرپناه زمینه برابره کړي خو هغه کورنۍ چې له اوردې مودې راهیسې د بې ځایه کیدو په حالت کې ژوند تیروي او نه غواړي بیرته خپلو سیمو ته ولاړ شي نو دوې ته به په نورو سیمو کې د سرپناه لارې چارې برابرې شي .

### سر شمیرنه

نږدې ۴۰ کاله کیږي چې افغانان له خپل هیواده لرې په پردیو هیوادونو کې د کډوالۍ شپې او ورځې تیروي سره له دې چې له ۲۰۰۲ کال راهیسې ٦ میلیونه افغانان خپله هیواد ته راستانه شوي خو لاهم ٦ میلیونه افغان کډوال له هیواده بهر ژوند کوي .
شاوخوا ۳ میلیونه افغان کډوال په پاکستان کې میشت دي چې ۱،۵ میلیونه یې د اوسیدو قانوني اسناد لري او پاتې نور یې پرته له قانوني اسنادو ژوند کوي .
په ایران کې ۲،۴ میلیونه افغان کډوال میشت دي چې ۱،۴ میلیونه یې له قانوني اسنادو سره ژوند کوي او پاتې نور یې قانوني اسناد نه لري همدارنګه له دغو دوو هیوادونو پرته له یو میلیونو څخه ډیر افغان کډوال په اروپا او یوشمیر نورو هیوادونو کې د کډوالۍ شپې او ورځې تیروي او دغه لړۍ لاهم دوام لري .
له بهرنیو هیوادونو پرته په کوردننه هم له یو میلیونو څخه ډیر هیوادوال له خپلو اصلي سیمو څخه بې ځایه شوي دي .

### شته ستونزې او ننګونې

امنیت
د بودیجې کمښت
ټیټ کاري ظرفیت
ناسم تشکیلاتي جوړښت
په هغو هیوادونو کې چې ډیر شمیر افغان کډوال میشت دي د اتشو نشتوالی
د ولایتي دفترونو د ودانیو ستونزه



## د وزير پيغام

### درنو کډوالو !

کډوالي د يوې ټولنيزې پديدې په توګه د يو خوندي چاپيريال او غوره اقتصاد په نيت ترسره کيږي او بيلابيل اړخونه لري، مونږ په ټوله نړۍ کې کډوال، د ټولنې شتمني او معنوي پانګه بولو او د ستونزو او ننګونو ترڅنګ کډوالۍ ته د مثبتې پديدې په توګه ګورو.
مونږ د کډوالۍ مسلې د سالم مديريت او رهبري کولو په موخه، د افغاني هويت د ساتلو لپاره فعالې ديپلوماسۍ، کلتوري ودې او اغيزمنو پروګرامونو جوړولو ته ژمن يو .
تاسې کولای شئ چې، په ټوله نړۍ کې د افغانستان غوره استازی، د ملي ګټو او د پت او عزت ساتونکي وسئ او د هيواد په اقتصادي، ټولنيز ، کلتوري او سياسي برخو کې پانګونه وکړئ مونږ په دې باور يو چې لر او بر يو افغان دی او افغانان که هر چيرې وي د خپل هيواد په اړه فکر کوي .

## د وزارت لنډه پيژنده

د لومړي ځل لپاره په ۱۳٦۷ لمريز کال کې، د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت د يوې کميټې په توګه د وزيرانو شورا تر چوکاټ لاندې په کار پيل وکړ .
اوسمهال دغه وزارت په ۳۴ ولايتونو کې د دفترونو په درلودلو سره ۱۰۰۰ تنه تشکيل لري خو د وزارت په وړانديز د نوي کال په تشکيل کې ۲۵۰ تنه ډيروالی راغلی چې له دې سره ياد وزارت به ۴۷۷ تنه کارکوونکي په مرکز ، ۷۷۳ تنه کارکوونکي په ولايتونو او ٦ تنه نور په پاکستان او ايران کې ولري .

آدرس : بريښنا کوټ ته نږدې ، واصل آباد ، کابل ، افغانستان
بريښناليک : media@morr.gov.af
ويب پاڼه : www.morr.gov.af
فيس بوک : www.facebook.com/morr.gov
يوټيوب : ministry of refugees & repatriations

## د وزارت ليدلوری

بشري حقونو ته د لاسرسي سره سم کډوالي، پناه غوښتنه او په آزادانه او خوندي ډول راستنيدنه

## د وزارت ماموريت

د کډوالۍ ، پناه غوښتنې ، راستنيدنې او تل پاتې ځای پر ځای کولو ( استقرار پايدار ) د چارو مديريت؛ کډوالو، راستنيدونکو او بې ځايه شويو کورنيو ته د حقوقي او ټولنيزو خدمتونو وړاندې کول؛ او د ملي او نړيوالو مرستو راجلبول د وزارت ماموريت دی.

## بنسټيز ارزښتونه

مونږ خپلې ټولې کړنې په رښتينولي، صداقت او رڼه ډول له ديني او کلتوري ارزښتونو سره سم ترسره کوو.
مونږ په هيواد او له هيواد څخه بهر د کډوالو، بې ځايه شويو، او راستنيدونکو له حقونو ملاتړ او دفاع کوو.
مونږ د استخدام او خدمتونو د وړاندې کولو په برخو کې لوړ مسلکي معيارونه په نظر کې نيسو .
مونږ د هيواد د ودې او پراختيا لپاره د کډوالۍ، پناه غوښتونکو او راستنيدونکو له فرصتونو او مثبت اړخ څخه ګټه پورته کوو.
مونږ د متوازنې او تل پاتې ودې ، او د بيرته يوځای کولو ګډ بهير ته چې د کډوالو او نورو ډلو د غوښتنو او نظرياتو د درناوي پر بنسټ وي، ژمن يو .
مونږ د ښځو او نورو زيانمنو ډلو فعالې ونډې او ګډون ته د اهميت په سترګه ګورو .
مونږ له ښکيلو شريکانو سره پر ګډ کار ، همغږي او مرستې باور لرو .

## د وزارت لاسته راوړنې

د ملي يووالي حکومت له جوړيدو سره سم د تير په پرتله د کډوالۍ مسلې ته پاملرنه ډيره شوې او د کډوالۍ ستونزو ته رسيدنه د ملي يووالي حکومت له لومړيتوبونو څخه دي .
د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت په تيرو څو مياشتو کې د ډيرو کمو امکاناتو په لرلو سره و کولای شو چې لاندې لاسته راوړنې ولري :
د کډوالۍ عالي کميسيون جوړل
د کډوالۍ عالي کميسيون د ولسمشر په مشرۍ ، د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت په وړانديز د کابينې لخوا په ۲٦/۱/۱۳۹٦ نيټه تصويب او په کار پيل کړی .
په تدريجي او خوندي ډول د کډوالو د راستنولو لپاره په لويه او ملي کچه د سياستونو او همغږيو رامنځ ته کول ، د هيواد شته ظرفيتونو سره سم د کډوالو ، پناه غوښتونکو او بې ځايه شويو کورنيو بيرته يوځای کول ، د کډوالۍ د چارو مديريت، کډوالو ته د ټولنيزو او حقوقي خدمتونو وړاندې کول او د نړيوالو مرستو راجلبول د دغه کميسيون عمده موخې دي .
د اجراييه رييس او د ولسمشر د دويم مرستيال په ګډون ۱۵ وزيران او د ۷ خپلواکو ادارو او لويو رياستونو رييسان په ياد کميسيون کې غړيتوب لري .

## د کډوالۍ په چارو کې د وزيرانو شورا د فرعي کميټې جوړل

د کډوالۍ په چارو کې د وزيرانو شورا فرعي کميټه د اجراييه رييس په مشرۍ جوړ شوی او ټول هغه وزيران او د خپلواکو ادارو او عمومي رياستونو مشران چې د کډوالۍ عالي کميسيون غړيتوب لري د دغې کميټې غړي دي .
دغه کميټه د کډوالۍ عالي کميسيون د پلانونو او پريکړو د پلي کولو دنده لري

## د حل لارو استراتيژي Solutions Strategy for Afghan Refugees

په سيمه کې د کډوالو د ستونزو د هوارې په موخه له ۲۰۱۱ کال راهيسې افغانستان ، پاکستان او ايران د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مرسته خبرې اترې پيل کړې او " د حل لارو استراتيژي " په نامه د يوې ګډې استراتيژۍ د جوړلو لپاره سره سلا شول .
په داوطلبانه ډول د کډوالو د راستنولو له بهير څخه ملاتړ ، له هيواد سره د دوې بيرته يو ځای کول او کوربه هيوادونو سره مرسته د دغې استراتيژۍ عمده موخې دي .
دغه استراتيژي د مرستندويه هيوادونو مالي ملاتړ له ځان سره لري او دوې د يادې استراتيژۍ د تطبيق لپاره د خپلو مرستو پر دوام ټينګار کړی .

## پورتفوليو Portfolio of Projects

افغانستان ، پاکستان ، ايران او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په ګډه سره سلا شوي چې د کډوالۍ د چارو په تړاو د درې واړو هيوادونو اړونده ادارو لکه په افغانستان کې د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت ، په پاکستان کې د دغه هيواد د سرحدونو او ايالتونو ( سفران ) وزارت او په ايران کې د بهرنيو وګرو ادارې د خپلو پروژو پورتفوليو جوړه کړي .
د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت د پروژو پورتفوليو جوړه کړې او د دغو پروژو تطبيق لپاره ۵۵۳ مليونه امريکايي ډالرو ته اړتيا ده چې دغه طرحه د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په کلنۍ ناسته کې چې په ژنو کې جوړه شوې وه وړاندې وشوه او نړيوالې ټولنې د افغان حکومت له دغې طرحې خپل ملاتړ اعلان کړ .

## پنځه کلن استراتيژيک پلان

د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت په خپل استراتيژيک پلان کې د اصلاحاتو د راوستلو په موخه د يو شمير چارواکو ، سفيرانو ، پوهانو ، د مدني ټولنې غړو او د پوهنتونو د استادانو په ګډون په کابل کې څلور ورځينۍ سمينار جوړ کړ د سمينار د ګډونوالو له نظرياتو ، نيوکو وړانديزونو او غور وروسته په دغه پنځه کلن پلان کې اصلاحات رامنځ ته او د کډوالۍ عالي کميسون لخوا تصويب شو .
دغه پنځه کلن استراتيژيک پلان د هيواد له اوسني وضعيت سره سم او د کډوالو ، پناه غوښتونکو ، راستنيدونکو او بې ځايه شويو له اړتياوو او غوښتنو سره سم جوړ شوی دی .